AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی پاریس ۲۰۲۲/۰۵/۱۸

# د رڼا ګانو او عطرونو ښار



پاریس د رنګونو، څلا ګانو، فیشنونو، شهکارونو او خیل خیل کلتورونو ښار دی. مځکنی مساحت یې ۱۰۰ کیلو متره مربع دی؛ خپل نفوس یې دوه ملیونو او دوو لکو ته رسي؛ البته که د ګرد چاپیر ښارونو ټول هستوګن ورسره شمار شي نو په لس ملیونو به پښه کیږدي. د سین مشهور سیند د پاریس ښکلا څو چنده کړی چې له جنوب ختیځ څخه د شمال لویدیځ په لور بهیږي.
د پاریس د تهداب ډبره د حضرت مسیح له میلاد څخه دري پیړی دمخه اینښودل شوی او له دولسمي میلادي پیړی راهیسی د فرانسي د هیواد پلازمینه ده. د ریوز جورنال د راپور له مخې، په ۲۰۱۷م کال کې ۷۷ ملیونه سیلانیانو له فرانسي څخه لیدنه کړې وه چې یو تاریخي ریکارډ ګڼل کیږي .د فرانسي دولت د سیاحت او توریزیم له بابته هرکال په منځني ډول ۸۰ ملیارده ډالره ترلاسه کوي. په ۲۰۲۰م کال کې د پاریس د هر وګړي جي ډي پي یا ناخالص کورني تولید ۵۶ زره یورو ښودل شوی، په همدغه کال کې د هر کابلي جي ډي پي یواځې ۵۱۶ ډالره وو. د یوې غیرې رسمي سروې له مخې، له افغانستان څخه د بهرنیانو له وتلو وروسته د هر افغان جي ډي پي ۳۴۰ ډالرو ته راکوزه شوه خو بیا هم باتې وهو چې موږ دري امپراطورۍ په ګونډو کړیدي.
د نړۍ د نهو سترو عجایبو څخه یو د آیفل مشهور ټاور/ څلی دی چې هرکال څه باندي شپږ ملیونه خلک یې د لیدلو او انځورونو د اخیستلو په خاطر دلته راځي. دغه څلی د ځمکې له سطحي څخه ۳۲۴ متره لوړ او د ۱۸۸۹م کال د اپریل په میاشت کې پرانیستل شویدی. لس زره او سل ټنه وزن لري؛ سوچه اوسپنه ده او د ۲۵۰ ټنو انجنیرانو او کارګرانو له خوا په ۲۶ میاشتو کې سرته رسیدلي دی. په دې ټاور کې دوه نیم ملیونه میخونه کارول شوي او شل زره ګروپونه یې هره شپه د رڼا لپاره د خلکو په وړاندي سترګکونه وهي. هغه وخت یې ټولټال لګښت اته زره طلایي فرانکه وو چې د نن ورځې د ۳۴۴ ملیونه امریکایي ډالرو سره معادل دي. څګه ورته ایفل ویل کیږي چې مشر ډیزاینر یې د فرانسي مشهور انجنیر، ګوستاف ایفل نومیده.
د امریکا د نیویارک په ښار کې د خپلواکۍ تاریخي مجسمه هم نوموړي ډیزاین کړېده کومه چې بیا د فرانسي حکومت د امریکا متحدو ایالتونو ته ډالۍ کړه .د فرانسي هیواد په ۲۰۲۰م کال کې د ۴۷۶ ملیارده امریکایي ډالرو په اندازې صادرات درلودل چې په هغو کې د ۵۷ ملیاردو ډالرو عطر، د آرایش سامان، درمل او الکحولي مشروبات چې Champagne شامپاین شراب یې په سر کې راځي، پلورلي دي. فرانسوي حبوبات او لبنیات په نړۍ کې بیساری مینه وال او پیریدونکي لري؛ عربي هیوادونه یې ستره منده یې ده.
که انګریزي د علم او ټکنالوژۍ او عربي د فصاحت او بلاغت ژبه ده، نو فرانسوي د ډیپلوماسي او رومانس ژبه ده. د ملګرو ملتونو د شپږو رسمي ژبو څخه یوه هم فرانسوي ده؛ په مجموعي ډول ۲۷۴ ملیونه خلک په کاناډا، افریقا، اروپا او د آرام سمندر په لسګونو جزیرو کې وربانديٍ خبرې کوي. د ۲۰۲۱م کال د احصائي پربنسټ، د فرانسي ټول نفوس اوه شپته ملیونه دی چې نژدې شپږ ملیونه یې مسلمانان دي.
په لومړۍ او دوهمي نړیوالي جګړې کې د فرانسویانو ستره اندیښنه د ایفل د څلي، سوربون د پوهنتون او د موزیمونو خوندي ساتل وو؛ څکه فرانسویان دغه څلي ته د خپلي کلتوري وړتیا او شاخص په سترګه ګوري. خو دوه نیمې لسیزې وړاندې، په افغانستان کې د کورنۍ جګړې په مهال د کابل پوهنتون او د علامه سید جمال الدین افغاني قبر د جګړه مارو غټ سنګرونه وو. په کابل کې د میوند څلي د کرکجنو ټوپکمارانو د هوسونو نذرانه شو او د ارګ سرې غالۍ زما د سترګو په وړاندې په شنو ډاټسنو کې بار شوې. همدا د ژوندیو او لاپوکو ولسونو ترمنځ توپیر دی. څوک په ماضي شخوند وهي او څوک د مستقبل لپاره شپې رڼې کوي چې څه رنګه مریخ ته ځان ورسوي!!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ